مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۶/۰۷/۰۱

# اته اویا کلن شیطان

هغه زموږ پر وطن بیا یرغل وکړ. بیا ئې زموږ ماشومان تر نړېدلو چتونو لاندي ښخ کړل، زموږ ښځي ئې په رڼا ورځ بیا کونډي کړې، بیا ئې زموږ سپین ږیري د شپې په تیارو کي ښکار کړل، د کنډوالو معمار بیا زموږ کوررونه په باروتو خاوري کړل. د لرغونو اساطیرو د قهر د خدای غضب هم د دې اته اویا کلن شیطان د وحشت پر وړاندي ګونګ ولاړ وو.

موږ د کنډوالو په منځ کي راټول سوو او د غچ لوړه مو وکړه. مسیحا مو په لوړ ږغ وویل: «د هر قبر حساب به ورسره کېږي!» رنځور زړونو لا هم عدالت ته د رسېدو خوب لیدی، که څه هم تاریخ تر اوسه دا خوب نه دئ تعبیر کړی. «یو په یو به وژل کېږي!» مسیحا مو نور احساساتی سو. یوه یتیم وپوښتل: «په څه؟» چوپتیا خپره سوه. هغه چوپتیا چي تر هر یرغل وروسته مسیحا خپلول. مسیحا وسله پر مځکه کښېښوول، لاسونه ئې پورته کړه، او ورو ئې وویل: «په دعاوو بچیه په دعاوو!»

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ